بسم الله الرحمن الرحیم

# د واجب وصیت د احکامو بیان په میراث علم کې

الحمدلله رب العالمین و العاقبة للمتقین و الصلاة و السلام علی

اشرف الانبیاء و المرسلین محمد و علی آله و أصحابه أجمعیـــن.



لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم (ستانکزی)

د میراث علم یو له هغو علومو نه په شرعی او حقوقی برخو کې ده چې ستونزمن او مشکل فقهی او حسابی قواعد لري له هغه جملې نه یو هم د واجب وصیت احکام دي:

واجب وصیت عبارت د هغه حالت څخه دي چې فرع د اصل د ژوند په وخت کې وفات شوي وي او د مړ شوي فرع څخه اولادونه موجود وي او وروسته اصل هم مړ شي د اصل مړې له مال څخه د وفات شوي فرع د زوې لپاره د وفات شوي فرع د سهم په اندازه برخه رسیږي، په دې شرط چې د ثلث څخه تجاوز ونکړي لکه دا چې:

احمد د خپل پلار محمود په ژوند کې مړ شوي وي او د وفات شوې احمد څخه د هغه زوې مقصود پاتې شوي وي وروسته د محمود د مقصود نیکه هم مړ شي نو مقصود ته د هغه د پلار احمد د برخې په اندازه د خپل نیکه محمود له میراث څخه رسیږي.

د واجب وصیت موضوع د ځینو اسلامې هیوادونو په مدنې قوانینو کې لکه: مصر، سوریه، او افغانستان کې انعکاس موندلي دي چې په دې هکله باورې (مؤثق) فقهې نظر وجود نه لري نو له دې کبله واجبه وصیت د فقهې فتاواو له نظره تر بحث لاندې نیسو:

اسلامي فقهاء د واجبه وصیت په اړه په لاندې دوو لید لورو ویشل شوي دي:

## لومړی لید لوری: واجب وصیت جایز دي:

د ځینو محدثینو او اسلامي فقهاوو په نزد چې هغوي عبارت دي له:(سعید بن المسیب، حسن البصری، طاؤوس، امام احمد، داؤد، طبری، اسحاق بن راهویه ابن حزم رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین) د پورتنیو

علماؤو کرامو دلیل د الله تعالی دا قول دي:[1]

**((کُتِبَ عَلَیْکُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَکُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَیْرًا الْوَصِیَّةُ لِلْوَالِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِینَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَی الْمُتَّقِینَ))** البقره / ۱۸۰

ژباړه:په تاسو باندې دا حکم شوی دی چې کله له تاسو څخه یو څوک مړ شي، که هغه خپل مال پریږدي، نو هغه دې خپل مور او پلار او خپلوانو ته په ښه توګه وصیت کړي، او دا په متقیانو باندې حق دی.

په فقهاؤو کې د ابن حزم ظاهری رحمة الله علیه مذهب دي او همدا د ځینو تابعینو قول او یو روایت په حنبلی مذهب کې هم دي.[2]

## دویم لید لوری: وصیت واجب ندی:

د اهل سنت د څلورو مذاهبو جمهور فقهای کرامو (امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعی او امام احمد رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین په دې نظر دي. چې واجب وصیت جایز نه دي او په لاندې دلایلو یې استدلال کړي دي.[3]

د دې مبارک ایت حکم: **((کُتِبَ عَلَیْکُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَکُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَیْرًا الْوَصِیَّةُ لِلْوَالِدَیْنِ وَالْأَقْرَبِینَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَی الْمُتَّقِینَ))** البقره / ۱۸۰

ژباړه: په تاسو باندې دا حکم شوی دی چې کله له تاسو څخه یو څوک مړ شي، که هغه خپل مال پریږدي، نو هغه دې خپل مور او پلار او خپلوانو ته په ښه توګه وصیت کړي، او دا په متقیانو باندې حق دی.

د میراث په دې آیت منسوخ شوی دي: **((یُوصِیکُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِکُمْ لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَیَیْنِ)) (سورة النساء/۱۰)**[4]

ژباړه: الله جل جلاله تاسو ته د خپلو اولادونو په اړه سپارښتنه کوي، د هلک ونډه د دوو نجونو په شان ده.

---

[1] ) المنجد شیخ محمد صالح (الاسلام سوال او جواب) https: islmqa - info

[2] ) پورتنی مرجع

[3] ) ریاض محمد، احکام المواریث بین النظر الفقهی وا لتطبیق مخ ۲۳٦.

[4] ) جامع البیان ټوک ۲ مخ ۱٤٦ – احکام القرآن ټوک ۱ مخ ۱۰۲

دغه موضوع ابو داود له ابن عباس رضی الله علیه عنهما څخه روایت کړي ده او یاد شوې حدیث ته امام البانې رحمة الله علیه صحیح ویلې دي.

همدا رنګه د ابن عباس رضی الله عنهما په یو روایت کې راغلي دي چې آیت منسوخ نه دي مګر واجب وصیت د مړي خپلوانو وارثانو لپاره نشته بلکه په غیر د خپلوانو د نورو لپاره واجب دي او دغه آیت د میراث په آیت او په دې حدیث چې ((**لا وصية لوارث**)) د وارث لپاره وصیت نشته، سره خاص شوي دي.

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو څخه هیڅ روایت د واجب وصیت په اړه شتون نلري نو که چیرې وصیت واجب وای نو په دې هکله به له صحابه کرامو روایت موجود وای.

وصیت بخشش دي او بخشش په ژوند کې واجب نه دي نو له مرګه وروسته هم واجب نه دي.

د فقهای کرامو پورتنیو نظریاتو ته ابن عبدالبر رحمة الله علیه اشاره کړې ده او وایې چې علماوو په دې موضوع اجماع کړې ده چې وصیت واجب نه دي.[٥]

## د علماؤو د پورتنیو لیدلورو نتیجه (پایله):

اصل اختلاف د نفس وصیت په باره کې نه ده ځکه ټول اسلامي علماء په دې باور دي چې وصیت جایز دي مګر اختلاف د وصیت د حکم په اړه په همدې ځانګړي موضوع کې ده جمهور فقهاء د وصیت حکم مستحب ګڼې او په دې ځانګړې موضوع کې الزام او وجوب ردوي د استحباب حکم د عمل له نظره انسان ته اختیار ورکوي چې ددې علماوو دلایل قوي او موجه دي نسبت هغو علماوو ته چې جواز ورکوي واجب وصیت ته چې الزام او اجبار مینځ ته راوړي او حتما باید سهم د وصیت لمسې ته صورت ومومي.

په نني عصر کې هم د واجب وصیت مجوزین او مانعین خپلو نظریاتو ته د پخوانیو علماوو په پیروی تللي دي هغه کسان چې واجب وصیت جایز ګڼې د واجب وصیت د مانعینو علماوو د نظر لپاره یې د فقهی قواعدو پر اساس توجیه کړې ده چې هر کله امام یا حاکم وغواړي مباحات او استحباب د عمومي مصلحت او شرعي سیاست په خاطر وجوب وګرځوي نو په دې صورت کې د حاکم پر دغه لاربښوونې عمل لازم ګرځي د همدې

[٥] ) المنجد، شیخ محمد صالح (الاسلام، سوال او ځواب https: islmqa - info

اصل له مخې د اکثره اسلامي هیوادونو مدونو قوانینو کې واجب وصیت لازم ګڼل شوي دي.[٦]

د افغانستان مقنن واجب وصیت د مړې لمسې ته د زوې یا لور د وفات په صورت کې مخکې د هغه له مړینې څخه په اندازه د سهم د پلار یا مور لازم ګڼلي دي چې په دې مورد کې د مدنې قانون لاندې مواد حکم کوي.

(۲۱۸۲) ماده:

هر کله چې مړې د خپل ولد فرع ته چې د هغه په ژوند کې وفات شوي یا د مړې سره یو ځای حقیقتا یا حکما وفات شوي وي په مثل د هغه څه چې یاد شوې ولد د هغه د مرګ په وخت ژوندې وای د هغه په متروکه کې د میراث مستحق کیده وصیت یې نه وې کړي ذکر شوي فرع ته په ترکه کې په اندازه د استحقاق د ذکر شوي ارث کې په حدود د ثلث ترکه کې وصیت واجبیږي. په دې شرط چې فرع وارث وي او مړې په خپل ژوند کې بلا عوض هغه ته داسې مال د بل تصرف له لارې د واجبې برخې په اندازه نه وي ورکړي او په هغه صورت کې چې مال یې هغه ته ورکړي وي مګر په هغه اندازه چې یاده شوي برخه تکمیل کړي په طریقه د وصیت واجبه مستحق کرځي.

(۲۱۸۳) ماده:

د دې قانون د (۲۱۸۲) مادې مندرج وصیت د لور د اولاد د لمړې طبقې لپاره او د زوې د اولاد لپاره د ښکاره کیدونکو اولادونو که مراتب یې هر څومره ښکته وي په دې ترتیب چې هر خپل فرع بغیر له د بل فرع څخه محجوب ګرځولي او د هر اصل حصه د هغه په فرع باندې ویشل کیږي سره له دې تقسیم د میراث ښکته شي لکه دا چې اصل د هغو اصولو سره چې د هغو په واسطه شخص مړي ته منسوب کیږي د هغه څخه وروسته وفات شوي وي او د هغوي وفات مرتب په ترتیب د طبقاتو صورت نیولي وي.

(۲۱۸۴) ماده:

په واجب وصیت کې د دې قانون د (۱۹۹۹ – او – ۲۰۰۰) موادو حکمونو رعایت حتمی دي.

[٦]) العزیزی عبد الفتاح / المیراث والوصیة مخ ٦٣١

(۲۱۸۵) ماده:

د واجب وصیت په استحقاق کې فرع د استحقاق د هغه څخه چې اصل د هغه په شرط د ژوند د مورث څخه وروسته مستحق کیده زیات سهم اخستلای نه شي همدارنگه د واجب وصیت خاوند زیات سهم له هغو اشخاصو څخه چې د قرابت په درجه کې د هغه سره یو شان (برابر) وي نه شي مستحق کیدای.

(۲۱۸٦) ماده:

هر کله چې یو شخص هغه چا ته چې وصیت هغه ته واجب وي د هغه له برخې څخه زیات وصیت وکړي د وصیت زیات مقدار اختیارې گڼل کیږي او که وصیت د هغه له برخې څخه کمه صورت موندلي وي په هغه اندازه چې د هغه برخه تکمیل کړي واجبیږي که چیرې د ځینو اشخاصو لپاره چې د هغوي لپاره وصیت واجب دي وصیت شوي وي او ځینو نورو ته وصیت ونه شي هغو کسانو ته چې وصیت شوي د هغه د برخې په اندازه واجبیږي.

د هغه چا برخه چې هغه ته وصیت نه دې شوي او د هغو کسانو باقې پاتې برخه چې هغوي ته لږ (کم) د واجبې برخې څخه وصیت شوي دي د باقې پاتې ثلث څخه ورکول کیږي او که ثلث پوره والي ونکړي له ثلث او هغه څه چې د اختیارې وصیت لپاره ځانگړي شوي وی ورکول کیږي.))

(۲۱۸۷) ماده:

واجب وصیت پر ټولو وصیتونو مقدم پیژندل کیږي.

(۲۱۸۸) ماده:

هر کله چې د هغو اشخاص لپاره چې وصیت د هغوي لپاره واجب دي وصیت نه وي شوي بل ته وصیت وشي هغه اشخاص چې د هغوی لپاره وصیت واجب دي د خپلې برخې په اندازه د ثلث د باقې پاتې متروکه که هغه پوره کړي په طریقه د وصیت واجبه مستحق کیږي او که باقې پاتې ثلث د هغوې حصه پوره نکړي نو د ثلث باقې پاتې او هغه څخه غیر ته وصیت شوي د هغوي حصه پوره کیږي.

(۲۱۸۹) ماده:

د دې قانون د (۲۱۸٦ – ۲۱۸۷ – ۲۱۸۸) مندرجو موادو په ټولو احوالو کې هغه څه چې د اختیاري وصیت څخه باقي پاتې وي د مربوطه احکامو په رعایت سره په اختیارې وصیت د مستحقینو تر مینځ د هغوي د برخو مطابق ویشل کیږي.

## د واجب وصیت قانوني شرطونه:

د مدني قانون د پورتنیو څرګندونو (تصریحاتو) مطابق واجب وصیت د لاندې قانوني شرطونو سره سم صورت نیولی شي:

۱ – د مړې زوی یا لور د هغه په ژوند کې وفات شوي وي او د هغوي څخه اولاد پاتې وي؛

۲ – مړي خپل فرع (لمسې) ته په خپل ژوند کې بلا عوض یو مال د واجب وصیت په اندازه نه وي ورکړې؛

۳ – په واجب وصیت کې د لور اولاد د لمړي طبقې د واجب وصیت مستحق او د صلبی اولاد زوی په هره اندازه چې ښکته وي د واجب وصیت مستحق ګرځي؛

۴ – په واجب وصیت کې فرع (لمسې) د مړي د سهم مستحق ګرځي چې اصل د هغه د ژوند په شرط مستحق ګرځي؛

۵ – واجب وصیت باید د ثلث ترکې څخه زیات (متجاوز) نه وي که د ثلث ترکې څخه متجاوز شي نو ثلث ترکې ته ښکته راځي؛

٦ – واجب وصیت پر ټولو وصیتونو مقدم دي.

**والله اعلم بالصواب**

**لیکونکی: دکتور محمد ظریف علم (ستانکزی)**